


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : ۱۴ سپتمبر ۲۰۱۳ ميلادی

# هر افغان مې دزړه سر دی !

که ترکمن او که تاجيـــک دی يا پښتون د لروبر دی
هر افغـــــــان مې دزړه سر دی
که ازبک که پشه يی دی ماته ګران له سيم او زر دی
هر افغـــــــان مې دزړه سر دی

زه ددی خاوری يچـــــی يم افغانان راته يکسان دی
که هندوان ، هزاره ګان او يـــــا زمونږه عربان دی
هم ايماق نورستانی او هم بلوچ ځمـــــا سرور دی
هر افغـــــان مې دزړه سر دی

په دری باندی مين يــــــــم او پښتو ده په ما ګرانه
زه په دواړو ښه غږيږم ګران دی ما باندی له ځانـــه
دا چی ټولی ژبی ګران دی دښمن ښه په ما خبر دی
هر افغـــــــانه مې دزړه سر دی

نور نو بس دی خوابدی راڅــــــــــــــی پخلا شو
کينـــــــــــــی بس کړو له دښمن څخه جدا شو
را پخلا به شـــــــــــي ځما ورور نن مرور دی
هر افغـــــــان مې دزړه سر دی

د سعدی شعر مونږ ته ښه ښـــــــــــکلی پیغام دی
چـــــــــــــــی پیدا له یو ګوهره جوړ انسان دی
ماتـــــــه ګران هر وطنوال لـــــــــکه ګوهر دی
هر افغـــــان می دزړه سر دی

که دی نشی دریدلی زه عصا شـــــــــــــــــــم
په تورتم کی زه یی مخی ته ر نـــــــا شمـــــم
زه به وچـــــــــــی کړم ددوست که لیمه تر دی
هر افغـــــــان می دزړه سر دی

ستا هر ځای لــکه جنت دی په مونږ ګران یی ته له ځان
هر خوا ګورم ستا صفت دی مونږ کړو ځان له تا قربان
محب وایی په مونږ ګران دی دا وطن زمونږ زیور دی
هر افغـــــــان می دزړه سر دی!!!!

****

محب الرحمن « خطیبي »

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی